ګټې مو له لاسه ورکړې دي؟
دلته هغه موارد ذکر شوي دي چې تاسو يې بايد ترسره کړئ

د 2026 اکتوبر میاشت

PROTECTING IMMIGRANT FAMILIES

کیدای شي تاسو یوه خبرتیا ترلاسه کړې وي چې د هغې پر بنسټ ستاسو یا ستاسو د کورنۍ غړو لپاره ځینې ګټې پایته رسیږي. په 2025 کال کې قانون د SNAP، Medicaid، CHIP او د روغتیایي ګټو مارکېټ په ځیر پروګرامونو لپاره د په شرایطو برابرېدو شرایط بدلون رامنځته کړ او له دې بدلونونو څخه یو شمېر هغه یې اوسمهال د پلي کېدو په حال کې دي. د نورو معلوماتو او د مرستې ترلاسه کولو لارو لپاره لاندې برخې ته مراجعه وکړئ.

د تیروتنو موندلو لپاره یې وګورئ

- دا بدلونونه سربېره کوونکي دي او کیدای شي ایالتونه تېروتنې وکړي. که چېرې تاسو ته وویل شي چې ستاسو ګټې پایته رسیږي، دا موضوع دوه ځله وګورئ تر څو ډاډ ترلاسه کړئ چې کومه تیروتنه رامنځته شوې نه ده. د مرستې لپاره تاسو کولی شئ د سیمه ییزې ټولنې له باوري ډلې سره خبرې وکړئ.
- که چېرې د کورنۍ غړي د کډوالۍ بېلابېل حالتونه ولري، کیدای شي ستاسو په کورنۍ کې ځینې خلک بیا هم د SNAP، Medicaid، CHIP، یا روغتیا پوښښ په ځیر پروګرامونو لپاره په شرایطو برابر وي. د ټولنې د یوې باوري ډلې سره خبرې وکړئ تر څو ډاډ ترلاسه کړئ چې د کورنۍ په شرایطو برابر غړي په تیروتنې سره ګټې له لاسه ورنه کړي.

د عامه ګټو په پروګرامونو کې د رامنځته شویو بدلونونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ

- د 2025 کال د قانون له مخې، یوازې هغه خلک چې د کډوالۍ ځانګړي حالتونه لري کولی شي د SNAP، Medicaid، CHIP، او روغتیایي بیمې د مالیې له کریډټونو ځخه مرسته ترلاسه کړي:
  - امریکایي اتباع
  - قانوني دایمي اوسیدونکي (د ګرین کارت لرونکي) چې له 5 کلونو ځخه د زیات وخت لپاره دلته ژوند کوي
  - له کیوبا/هایټي څخه راغلي کسان
  - د COFA کډوال
- ځینې ګرین کارت لرونکي اړتیا نه لري چې د پروګرامونو لپاره وړتیا ترلاسه کولو لپاره 5 کاله انتظار وکړي. د جزئیاتو لپاره د دې پاڼې شاتنۍ برخه وګورئ.
- هغه څه چې نه دي بدل شوي دا دي چې هر څوک چې په دې کټګوریو کې نه وي او د عاید له ټاکلې کچې څخه ښکته وي بیا هم کولی شي د اړتیا په صورت کې د بېرنۍ Medicaid څخه کار واخلي.

له کوم ځای څخه مرسته ترلاسه کړئ

- حتی که چېرې تاسو د نورو حکومتي پروګرامونو لپاره په شرایطو برابر نه یاست، نور ټولنیز پروګرامونه کولی شي د روغتیایي پاملرنې او خوړو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي. د غوراویو لپاره له یوې سیمه ییزې ډلې څخه پوښتنه وکړئ.
- د خوړو او طبي پاملرنې لپاره د سیمې ټولنیزې ډلې پیدا کړئ:
  - د خوړو بانکونه: https://foodfinder.us/
  - د ټولنې روغتیایي مرکزونه: https://findahealthcenter.hrsa.gov/

د یوې بیاکتنې غوښتنه وکړئ

- که چېرې تاسو فکر کوئ چې ایالت تېروتنه کړې، په دې صورت کې تاسو اړ نه یاست چې پریکړه ومنئ. تاسو حق لرئ تر څو له دوی څخه وغواړئ چې ستاسو په غوښتنلیک باندې بیاکتنه وکړي.
  - کیدای شي تاسو اړ شئ تر څو د خپلې کډوالۍ حالت اثباتیه سند بیا وړاندې کړئ، په ځانګړې توګه که چېرې دا حالت په دې وروستیو کې بدل شوی وي.
- تاسو پوازې نه یاست. د بیاکتنې غوښتنه کولو لپاره د مرستې په موخه د ټولنې د یوې باوري ډلې سره اړیکه ونیسئ.
- د خپلو ګټو د پایته رسېدو په اړه د استیناف غوښتنې په برخه کې د وړیا حقوقي مرستې ترلاسه کولو لپاره د Legal Aid له لارې https://www.lawhelp.org/ ته مراجعه وکړئ.

هغه خلک چې یو شمېر ځانګړي حالتونه لري او خپل ګرین کارتونه ترلاسه کوي، اړتیا نه لري چې د عامه ګټو پروګرامونو لپاره په شرایطو برابرېدو لپاره 5 کاله انتظار وکړي

- په مشروط ډول راغلي کسان
- هغه کسان چې د هغوی لپاره د ایستلو/ اخراج کولو حکم صادر شوی دی
- هغه خلک چې د متحده ایالاتو د کورنۍ امنیت وزارت (DHS) لخوا یې لږ تر لږه د یوه کال لپاره د لنډمهاله راتګ اجازه ترلاسه کړې ده
- کډوال
- هغه خلک چې پناه ورکړل شوې ده
- د U ویزې لرونکي
- د T ویزې لرونکي

د ایالت پروګرامونه ډېر خلک تر پوښښ لاندې راولي

یو شمېر ماشومان او میندوړه کډوال بیا هم کولای شي د Medicaid یا CHIP لپاره په 39 ایالتونو او واشنګټن ډي سي (DC) کې نومليکنه وکړي. خپل ایالت وموميئ: https://bit.ly/ICHIAAccess

اضافي په شرایطو برابر حالتونه	کوم پروګرام	څوک
• TPS • SIJ • د T او U ویزې • او آیالت ته په پام سره نور موارد • کډوال • پناه غوښتونکي • DACA	Medicaid یا CHIP	کډوال ماشومان
• TPS • SIJ • د T او U ویزې • او آیالت ته په پام سره نور موارد • کډوال • پناه غوښتونکي • DACA	د CHIP د زیږون څخه مخکې او وروسته پاملرنه	میندوړه میرمنې

د دې په اړه اندیښمن یاست چې ایا د عامه پروګرامونو کارول ستاسو د کډوالۍ حالت ته زیان رسولی شي یا د "عامه لګښت" په توګه ګڼل کیدای شي؟ دلته لا زیات معلومات وموميئ:

د عامه ګټو غوښتنلیکونو اړوند د خپلې کورنۍ د معلوماتو د خوندي کولو په اړه اندیښمن یاست؟ دلته لا زیات معلومات وموميئ:

بېرنۍ Medicaid: د بېرنۍ Medicaid لپاره په شرایطو برابرېدل نه دي بدل شوي. هر هغه څوک چې د عاید له ټاکلې کچې څخه ښکته وي د بېرنۍ پوښښ لپاره په شرایطو برابر دي، پرته له دې چې د کډوالۍ حالت یې په پام کې ونیول شي.